# افغانستان کښې آئيني پرمختګ

# او

# د صدراعظم موسیٰ شفيق کردار

پروفيسر ډاکټر فضل الرحيم مروت

شلمه پيړۍ کۀ په نړۍ کښې د جنګونو، سوړ جنګ (Cold War) او نظرياتي کشمکش ډېره مشهوره ده خو بل خوا افغانستان کښې په دغه پيړۍ کښې بدلون،اساسي قانون او د انقلاب چغې د اولس او ارګ دواړو له خوا راپورته شوې دي. دا اواز د مشروطه خواهانو له خوا هم وو او د ويښ ځلميانو هم. د Ideal او Model په لړ کښې د دوي نظرونه بېل ضرور وو خو په دې لاندينو نکتو ټول سره شريک وو.

۱: ټول د فرنګي ضد (خلاف) وو.

۲: ټول د روايتي ملا يا ملائيت ضد (خلاف) وو.

۳: د خپلې بشپړه (مکملې) آزادۍ سره مينه لرونکي وو.

۴: د دراني امپراطورۍ بېرته اخستلو ترلاسه کولو مرام د ټولو يو وو. کله د پښتونستان په صورت کښې او کله په نورو صورتونو کښې.

۵: د هېواد د ودې او پرمختګ ډېره خارجي، اقتصادي او ټولنيز ماډلونه خپلول.

خو په دې جريان کښې د دغو باسواده ځوانانو په خپل اند مرکزي حکومت او قبائيلي ټولنه پورتنو هدفونو ته د رسېدو ذمه واره ګڼل. تر دې چې د سردار داودخان د صدراعظمۍ دورې (۲۳.۱۹۵۵) هم دغه توقعات (Expectations) پوره نۀ کړل. بلکې د سردار داودخان تګ خو د ځان سره د ۱۹۳۱ اساسي قانون (Constitution) هم يوړو. ولې دغې دورې يو سبق خلقو ته ورکړو چې سياسي ترقي او پرمختګ د اقتصادي پرمختګ او ټينګې (مضبوطې) اردو (Army) نه بغير ممکنه نۀ ده.

کله چې اروابښاد بادشاه ظاهرشاه د داودخان بغېره د حکومت چلولو فېصله وکړه او ډاکټر محمد يوسف ئې صدراعظم کړو او د کابل پوهنتون پروفيسران ئې د کابينې غړي واخستل. د محمد يوسف د حکومتي دورې څه کارنامې په

دا ډول دي.
۱: ټولنیز اصلاحات (Social Reforms) .
۲: دستور اساسي ۱۹۲۴ مخې ته راوړل.
۳: سیاسي بندیانو د خوشې کولو اعلان.
۴: د قانون حاکمیت.
۵: د مطبوعاتو آزادي.(Press Freedom)
د ۱۹۲۴ اساسي قانون د یوې لوئې اتحادیې نه راووت خو د ځینو مادو (Articles) په وجه د ډېرو په نظر د داودخان د دستور ضد وو. باچا دستور اساسي ۱۹۲۴ د امرت دار یعنې ټولو مسئلو (Probems) علاج په توګه پېش کولو. قانون اساسي کښې داسې مادې (Articles) وې چې دستوري بادشاهت د نادرخان کورنۍ ته راغلو. د شاهي کورنۍ ټول غړي د صدراعظم د پارلیمان غړي توب او د سترې محکمې د چوکیو نه بهر کړل شول. په بله معنا سردار داودخان د قوت (Power) د چوکیو نه د دستور اساسي په ذریعه لرې کړے شو.
پروفیسر L.Jupree په دغه دوره څه دا رنګ تبصره کوي چې ډېر ټینګار په (دغه وخت کښې) په افغاني سوشلزم دے. نۀ د شوروي (Soviet) یا چینائي (China) سوشلزم. او تر ډېره حده دا حقیقت وو.
۱۹۲۴اساسي قانون لاندې ټول ټاکنې (Election) وشوې. ولې په دغو حالاتو کښې اولس خپلې رائې شخصیاتو له ورکړې او ګوندونو ته ځکه نۀ چې وجود ئې نۀ لرلو. ولې بیا هم د دغه ټول ټاکنو په ترڅ کښې په اولسي جرګه (۱۹۲۵) کښې نـزدې (تقریباً) شپږ ډلې رامخې ته شوې.
۱: د مجددي صیب په مشرۍ کښې روحاني مذهبي ډله.
۲: د عبدالمجید زابلي سیوري لاندې کاروباري طبقه یا ډله.
۳: د استاد خلیل الله خلیلي په مشرۍ کښې وحدت ملي ډله چې د بادشاه ملاتړ ور ته ترلاسه ؤ.
۴: میر غلام محمد فرهنګ لبرال غړے.
۵: د ببرک کارمل او ډاکټر عناهته راتب زاد مارکسزم یا چپ لاسه ډله.
۲: د غلام محمد فرهاد د سپر (Super) پښتون نیشنلزم ډله.
ببرک کارمل او د هغه ملګرو د محاصلانو (Students) په ذریعه په حکومت زور راوستلو. د ډاکټر یوسف کور سره نژدې د پولیس ډزو کښې درې تنه محاصلان مړه شول او ډېر زخمیان شول او په نتیجه کښې ډاکټر یوسف د اکتوبر په ۲۹ نېټه استعفی ورکړه او هاشم مېوندوال صدراعظم شو. دغه دوران کښې اول د اولسي جرګې نه په جولائي ۱۹۲۵کښې د

مـطبـوعـاتو قانون (Press Law) او بيـا قانون احزاب په جولائي ۱۹۲۲ کښې مخې ته راغلو چې د ګـوندونو او مطبوعاتو دپاره لاره خلاصه شوه او يـو شـمېـر اخبـارونـه او مجلې لکه پېغام امروز، مـردم،خـلـق،پـرچـم،مساوات،شعله جاويد، افغان ملت او نور چاپ کېدل شروع شول.

# د محمد موسیٰ شفيق کاموي کردار

زمـا پــه خيـال مـوسیٰ شفيق يو اولسي سړے ؤ چې صــدراعــظـم شـو. دوي هـر مـدام دا کوشش کولو چې د ارګ او اولس ترمېنځه د يو پل کـردار او حيثيت ولري او د دواړو تر منځه اړيکې جـوړې او مضبوطې کړي. بله اهمه خبره د دوي په وړانـدې دا وه چې افـغـــاني ټـولـنـه کښې موجود سيـاسـي او مـفـکوري تضادات (چپ لاسي، ښي لاسي،مذهبي او لبرال) له منځه يوسي. د دوي په کـوشـشـونـو کهٔ دغـه تضادات يو مخ ختم نهٔ شول ولې کم ضرور شول.

موسیٰ شفيق يو ډېر زيرک سياستمدار ؤ. کهٔ يـو خـوا ئې د پــاکسـتــان سـره د پښتونسـتــان مسـئـلـه ډېر په چل ول سړه کړه باوجود د دې چې د مشـرقي پاکستان د بېلېدو په ترڅ کښې پاکستان کـمزورے شوے ؤ او د ډيورنډ د غاړې نه د آزادۍ يـو بل پېغام د بنګاليانو په صورت کښې اوربدلے کېـدے شـو. بـل خوا ايران سره د افغانستـان زړې کشـالې او د هـلمند د اوبو مسئله ئې هم په دسمبر ۱۹۷۲ کښې ډېـر پـه ډپلوماتيک طريقې سره حل کړه. د دغـه سـتـونزو د هوارولو دپاره ئې يو شمېر کميټۍ جوړې کړې. تر څو د هوارۍ لاره ولټوي. د دوي په دغو هلو ځلو د چپ لاسو (Leftist) ډلو او ځيـنو نورو له خوا اعتراضات رامخې ته شول او په ضد ئې کمپائن (Campaign) وچلولو او مجلو او اخبـاراتو کښې ور ته د آب فروش نامه ورکړے شوه.

د مـوسیٰ شـفيـق د صدراعظمۍ په دوره کښې څـــه نـوري لاس تـه راوړني مونږ څـه داسې يادولے شو.

۱: غټ عسکري روغتون جوړول.
۲: لس فابريکې اودرول.
۳:باګرام او خواجه روش هوائي ډګرونه برابرول.
۴: مـطبـوعـاتو ته داسې آزادي ورکول چې د خپل وس مـطابق ئې د حکومتي لاس لاندې (Control) هم وساتلو.
۵: امريکې سره خصوصي تعلقات برابرول.
۶: شـوروي اتـحــاد تــه د غـرب نـوکر وئيلو نـه وروستو ښې اړيکې جوړول.

مـوسیٰ شـفيـق په ذاتي توګه ډېر ژور او پـوهـه انسـان ؤ. شاعر،اديب،صحافي،ډپلوماټ او سيـاسـتـمـدار نـه پـرتـه د افغاني اولس د قبيلوي

ټولنې په مزاج او د دوي د نفسياتو نه خبر انسان ؤ. د بادشاه په مزاج پوهه ؤ. د دربار د خوي خصلت نه واقف ؤ. كوشش ئې كولو چې د شاهي كورنۍ غړي د حكومت په كارونو كښې لاسوهنه ونۀ لري.

ځينې نقادان د دوي په ذات نيوكې كوي چې دوي كله هم بادشاه نۀ مخ وا نۀ ړولو او د هغوي احترام ته لاس په نامه ولاړ ؤ. دريشي به ئې خارج كښې گنډله. موټر ئې ځان له د خارج راغوښتے ؤ. جلال آباد كښې ئې ځان ته لوئې كور جوړ كړو او داسې نور. خو د معترضينو خبرې په خپل ځائې ولې په شخصي او اجتماعي چوكاټ كښې دوي ډېر زياتې خوبيانې په ځان كښې لرلې چې نورو ډېرو كښې هغه خوبيانې نۀ وې.

پروفيسر ايل دوپري (L.Dupree) جولائي ۱۹۷۱ كښې د افغانستان په سياسي ټولنه خپله تبصره كښې وائي:

,,افغانستان كښې د ديموكراتيک تجربه مړه نۀ ده ولې رنځوره ضرور ده او شايد انقلاب تر لسو كالو پورې راښكاره شي،،.

زما په خيال ديموكراسي په صحيح معنو كښې د خپلې كاميابۍ دپاره ديموكراتيک گوندونه غواړي او ديموكراتيک كلتور ته وده وركول غواړي. ديموكراتيک كلتور،علم،سبق، مطبوعات او ميډيا آزادي،بشري حقوق او د قانون حاكميت سره راځي.

☆☆☆

## غمرازي

د خدائې بخښلي خدائي خدمتگار جرنيل نظردين بيټني زوي گل زمان بيټنے په حق ورسېدو. انا لله وانا اليه راجعون. الله دې جنت الفردوس كښې لوئې مقام وركړي.

خدائے بخښلے گل زمان د نامتو خدائي خدمتگار او د باچاخان بابا د ژوند په خاص سپاهيانو ملگرو او د گومل بازار كوټ اعظم كلي د خدائي خدمتگارو باني جرنيل نظردين بيټني په كور كښې ۱۹۴۲ كښې پېدا شوے ؤ او د ۷۳ كالو په عمر كښې ۲۰۱۷ د اپريل مياشتې په ۲ تاريخ د زيارت په ورځ له دې فاني دنيا نه رخصت شو.

گل زمان د نورو خدائي خدمتگارو زامنو او ورونو په شان دوي هم د خپل پلار او قام مشرانو سره د دې خاورې او وطن په آزادۍ او آبادۍ كښې د جيل قيد و بند شپې تېرې كړې وې او درې مياشتې ئې د جيل بنديز ليدلے ؤ.

گل زمان بيټنے ډېر وخت ناروغه ؤ چې د ناروغتيا نه وروستو وفات شو. د دوي په جنازه كښې د ژوند د هرې طبقې خلقو گډون وكړو او د ډېرو دعاگانو سره خپلې پلرنۍ اديره كښې خاورو ته وسپارل شو. په گور ئې نور شه.

رحمت شاه قريشي